SMART



# SMART Survey

Noted By Dr. Asadullah Farzad

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# TABLE OF CONTENTS

1. Definition of SMART Survey
2. Objectives of SMART Survey
3. Sampling
4. Survey Team
5. Field Procedures
6. Special cases
7. Sampling
8. Segmentation
9. Recal period



(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART



# د سروې پیژندنه

# Definition of SMART Survey

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# SMART SURVEY





**تعریف** :د کورنۍ په سطحه د سروې یو ساده او معیاري طریقه ده کوم چي د یوې ټولني د صحي حالت وضعیت او شدت بیانوي.

**SMART**
**(Standardized Monitoring and Assessment of Relief and Transition)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوءِ تغذي (Malnutrition)

- تعریف :که چیري د یوه ماشوم نورمال تغذي حالت خراب شي یا یې وزن زیات شي او یا وزن کم شي.
- سوءِ تغذي پر دوه ډوله ده!

1. Over nutrition
   1. Overweight
   2. Obesity
2. Under Nutrition
   1. Acute if durition is less then 6 months
   2. Chronic
   3. Underweight
   4. Micronutrients Deficiency

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سروې اهداف

# Objectives of SMART Survey

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د سروې اهداف

1. د هغو ماشومانو د تغذي حالت ارزيابي کوم چي عمر يې له صفر څخه تر ۵۹مياشتي پوري وي.

- Weight
- Height/length
- MUAC
- Age
- Odema
- Wastingمعلومه شي چي د ماشوم عضلات څومره بايلل شوي دي.
- Stundingد ماشومانو قد معلوم شي.
- Underfive

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سروې اهداف

2. په ځانګړي وخت کښې د مړيني ارزيابي (Mortality rate) .

- د مړيني اندازه نظر عمرته هم په ماشومانو کښې او هم په لويانو کښې معلوموو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د سروې اهداف

3. PLW MUAC

دریم هدف یې د CBA میندو موټونه د مواک په مرسته اندازه کول دی .

دا ځکه اندازه کوو چې هغه میندې کوم چې ضعیف تغذي حالت ولرې کیدای شي راتلونکی ماشوم یې هم سوۀ تغذي واوسي ، نو دا راتلونکي ماشومانو له تغذي څخه د مخنیوي لپاره لومړی میندي ارزیابي کوو او ورپسي یې تقویه کوو.

- هغه حامله میندي کوم چې مواک یې تر ۲۲ یا ۲۳ سانتي متره کښته وي کیدای شي ماشوم یې LBW یا د پیدایښت په وخت تر ۲.۵ کیلو کم وي یا وایو چې سوۀ تغذي وي.

8/19/2022

by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سروې اهداف

- ☞ PLW (Pregnant-Lactating Women)
- ☞ CBA (Child Bearing Age, 15y-49y)
- ☞ LBW (Low Birth Weight, less then 2.5Kg)

4. Health Assessment

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مواک (MUAC)

MUAC (Mid-Upper Arm Circumference)

مواک یوه فته ده د ماشوم د مټ پر منځنۍ برخه راتاو کیږي کوم چي سوء تغذي ماشومان پرې معلومیږي .مواک لاندي درې رنګونه لري:

1. **زرغون رنګ** :نورمال حالت دی ۱۲.۵ او تر ۱۲.۵ سانتي متره پورته ښیي.
2. **ژیړ رنګ** :متوسطه سوء تغذي (خوارځواکي)ښیي کوم چي د ۱۱.۵ او ۱۲.۵ سانتي مترو ترمینځ ساحې ته ویل کیږي.
3. **سور رنګ** :شدیده سوء تغذي (خوارځواکي)ښیي ۱۱.۵ او تر ۱۱.۵ سانتي متره کښته حالت ته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مواک (MUAC)



- مواک تر شپږ میاشتې کم عمره ماشومانو لپاره نه استعمالیږي.
- د حامله میندو د مواک نورماله اندازه له ۲۳سانتي مترو ثخه تر ۱۸.۵سانتي متره پوري ده ، که تر ۲۳سانتي متره پورته وو نورمال دی ، له ۲۳ثخه تر ۱۸.۵سانتي متره پوري متوسط دی او تر ۱۸.۵سانتي متره کم شدیده سوۀ تغذي بنیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مواک (MUAC)

- هغه حامله میندي کوم چي مواک يې تر ۲۲ یا ۲۳ سانتي متره کښته وي کیدای شي ماشوم يې LBWیا د پیدایښت په وخت تر ۲,۵ کیلو کم وي یا وایو چي سوۀ تغذي وي.
- مواک باید نه ډیر ټینګ او نه ډیر سوست ونیول شي ځکه په ټینګ نیولو سره کیدای شي چي نورمال ماشوم خوارځواکی وښيي او په سوست نیولو سره کیدای شي خوارځواکی ماشوم نورمال وښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# مواک (MUAC)

- په مواک باندي باید کینږ لاس وکتل شي ښی لاس ځکه نه ګورو چي په ورځني ژوند چي ډیر استعمال لري نو په دې اساس کیدای شي ښی لاس یو څه ډبل واوسي یا دا چي د ښي لاس عضلات کېدای شي یو څه Hypertrophواوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وزن



- د وزن د اندازه کولو لپاره باید ډیجیټل ماشین درې ځلي د دوه کیلو وزن په اېښودلو سره چیک شي.
- دواړه Measurer او Assistant باید د ماشوم د ترازو پر دواړو بغلو کښېني.
- Measurer باید ماشین ته له نیژدې څخه وګوري ځکه په لیري کتلو سره کیدای شي 7 په 1 ولیدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وزن



- Measurerباید د مخ (قدام) له خوا ماشین ته ونه ګوري ځکه کیدای 6په 9یا 9په 6 معلوم شي.
- داندازه کولو په وخت کي باید ماشوم مخامخ سیده وګوري او لاسونه یې لاندي ځوړنده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# وزن

**د ماشوم کالي وزن تغیروي**

- ددې لپاره د ماشوم خاوند ته وایو چي له کور څخه داسي کالي راوړه کوم چي د ماشوم د اغوستل شوو کالو په اندازه وزن ولري ، بیانو وزن ځیني لیري کوو .
- خو !په اوس وخت کي فقط له ماشوم څخه درانه شیان لکه کوټ ، څپلې او نور د جیب شیان کاږو او کالي پرېږدو ځکه د کالو وزن خپله د کمپیوټر ډیټابېس اصلاح کوي.

**ددې تاوان څه دی ؟**

تاوان یې دادی چي کېدای شي د ماشوم سوءٔ تغذي حالت یا ډنګرتوب پټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# وزن

- د وزن او قد په اندازه کولو کې ، کله چې ماشوم اندازه شو ، تر لاسه شوې اندازه اول باید  Measurerپه لوړ اواز ووایي ، وروسته  Assistantپه لوړ اواز ووایي او دریم ځل یې Team leaderپه لوړ اواز ووایې.

8/19/2022

by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وزن

- مورتالیتي یا د مړیني اندازه په مکمل کال لیکل کیږي اما د ماشوم عمر په میاشتي لیکل کیږي.
- که چیري د یوه ماشوم وزن ۸۰ شي با ید ۸۰,۰ ولیکل شي.

8/19/2022 by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# قد او اوږدوالی

- قد او طول دواړه په سانتي متر اندازه کیږي.
- قد معنی کله چي ماشوم غټ وي او ارام وي نو ماشوم په Measuring boardکي دریږي.



اوږدوالی معنی کله چي ماشوم وړوکی وي دربدلی نه شي نو ماشوم په Measuring boardکي پرېباسو او طول یې اندازه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قد او اوږدوالی

- تر ۲۴ میاشتو پوري د ماشومانو اوږدوالی اندازه کوو ځکه تر دوه کلنۍ پوري ماشوم درېدای نشي.
- له ۲۴ میاشتو څخه تر ۵۹ میاشتنۍ پوري د ماشومانو قد اندازه کوو یا داچي ماشوم د ولاړي په حالت کي اندازه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قد او اوږدوالی

- د قد داندازه کيدلو په په وخت کي Measurer چپ خواته فتې ته مخامخ ناست/ناسته وي په يوه لاس يې د ماشوم د سر لپاره د Measuring board تخته نيولې وي او په بل لاس يې د ماشوم سر تر زني نيولی وي. او فتې ته ګوري.
- او Assistant بيا رسته خواته ناست/ناسته وي په يوه لاس يې د ماشوم زنګونه نيولي وي په بل لاس يې د ماشوم پښې ټينګې نيولي وي او لاندې ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# قد او اوږدوالی



by Dr. Asadullah farzad

**لاندي پنځه ځایونه باید پر تخته موښتي وي:**

1. د سر شا
2. د ملا پورتنۍ برخه.
3. کوناټي
4. پنډۍ
5. پوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قد او اوږدوالی

- عموما اوږدوالی تر قد ۷ملي متره زیات دی لامل یې دادی چې د پروتې په وخت کې د ماشوم د بندونو تر مینځ یو څه فاصله موجوده وي کوم چې د ولاړې په وخت کې له مینځه ځي .خو ! دا مهمه نه ده ځکه ENAسافټویر له اوږدوالی څخه خپله اضافه اندازه لیرې وي.
- کله چې موږ اوږدوالی اندازه کړ نو په خانه کې Lورسره لیکو تر څو له قد سره یې فرق وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د وخت تخمینول (AGE ESTIMATION)



**عمر له ځلورو لارو معلوو:**

1. ریکارډ (Record) تر ټولو مهم دی.
2. واکسین کارډ (Vaccine Card) ډیر مهم نه دی .
3. تذکیره (Tazkera)
4. د زیږېدنې کارټ (Birth certificate)

- که چیرې پورته یوه لاره هم ونشوه بیا له Events Calendar څخه استفاده کوو.
- د Event calendar له لارې د عمر معلومول:

1. کال معلوموو.
2. میاشت معلوموو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د ابعادو اندازه کوونه (Anthropometric Measurements)



**د ابعادو په اندازه ګیرۍ کښي لاندې برخي شاملي دي :**

- وزن (Weight)وزن په کیلوګرام اندازه کیږي.
- قد او اوږدوالی :قد او اوږدوالی په سانتي متر اندازه کوو.
- مواک :مواک په سانتي متر او ملي متر سره اندازه کیږي بهتره یې ساتني متر دی.
- عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ابعادو اندازه کوونه (Anthropometric Measurements)



- ازیما او پړسوب معلومول:
  - د تغذي ازیما له پښتو څخه شروع کیږي.
  - د شوۀ تغذي ازیما یوه pittingازیما ده.
  - د سوۀ تغذي ازیما دوه طرفه (Symmetrical)ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ازیما د pitting معلومول

د ماشوم دواړي پښې په خپلو لاسونو نیسو بیا خپلي دواړي بټې ګوتي د ماشوم د پښتو په شاتنۍ مخ باندې د پښو وحشي کنار ته نیژدې ایږدو ، ۱۰۰۱ او ۱۰۰۲ او ۱۰۰۳ وایو یعني ګوتي د دریو ثانیو لپاره ږدو کله چې موږ ګوتي پورته کړو که چیري ازیما موجوده وي د ګوتو چاپ تر دریو ثانیو پوري پاتي کیږي .او که چیري ازیما موجوده نه وي د ګوتو چاپ نه پاتي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هیڅکله په ساحه کې نه پوښتو چې د زوی عمر دې څو دی؟ بلکې د ریکارډ په اړه او نورې پوښتنې ځینې کوو .مثلآ ماشوم چیرې زیږیدلی دی ایا د پیدایښت کارټ ورسره سته یا نه!.؟
- د مواک په واسطه لاسته راغلي ارقامو کې باید اعشاریه رقمونه هم ورسره ولیکو .هیڅکله عشاریه رقمونه نه حذف کوو یا Round offنه کوو .باید ۱۲.۳په ۱۲تبدیل نه شي.
- د قد د اندازه کولو په وخت چې Measurerد Measuring boardد فتې په خوا کې مخامخ کښېني.
- په ساحه کښي باید ددې فرق وشي چې ماشوم په پرتو اندازه شوی دی که په ولاړو یعني د قد او اوږدوالی فرق یې باید وشي او هر یو په خپله خانه کښي ولیکل شي.

8/19/2022 by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART



**یادونه** :د ماشومانو عمر باید په میاشتو اندازه شي ، نه په کلونو.

**یادونه** :په یوه کور کښي د مړیني د اندازې د معلومولو لپاره ټول غړي حسابوو اما په نوره سروې کښي یواځي له ۰- ۵۹ میاشتو پوري اندازه کیږي .

**یادونه** :که چیري یوه ساحه زیات نفوس ولري او بله ساحه کم نفوس ولري نو چانس هغي ساحې ته ورکول کوم چي نفوس یې زیات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

**یادونه** :یو ماشوم له پیدایښت څخه تر ۲۹ ورځو پورې صفر دی .او تر ۵۹ ورځو پورې د یوې میاشتې دی کله چې ۶۰ مې ورځې ته واوښت بیا په دوه میاشتنۍ عمر کې راځې.

**یادونه** :د سوۀ تغذي ازیما عموما له پښو څخه شروع کیږي ، ولې نورې ازیماوې بیا له نورو ځایونو څخه شروع کیږي مثلآ هغه ازیما چې لامل یې د پښتورګې عدم کفایه وي له سترګو شاوخوا (Peri orbital)ساحې څخه شروع کیږي .د سوۀ تغذي ازیما یوه spitting Edemaده.

**یادونه** :تولې هغې ښځې چې عمر یې له ۱۵ کلنۍ او ۴۹ کلنۍ تر مینځ وي CBA بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# COVERAGE

- له دې ځخه هدف دادی چي کله يو ټيم ددې لپاره ساحې ته ځي ترڅو معلوم کړي چي په نومړې ساحه کښې د شري واکسين تطبيق شوی دی که نه.



by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سروې ټیم

# SURVEY TEAM

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د سروې ټیم (SURVEY TEAM)

- په یوه سروې کښې شپږ ټیمونه موجود دي.
- په هر ټیم کښې څلور نفر موجود دي کوم چي یو زنانه او درې نارینه دي .عبارت دي له:

1. Supervisor
2. Team Leader
3. Measurer
4. Assistant Measurer

☜زنانه کیدای شي Measurer یاAssistant measurerواوسي.



by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د سروې ټیم (Survey Team)

**Supervisor**

- ځان له وخت ، ځای او ورځي څخه خبروي.
- ټیم کنټرولوي.
- سامان اماده کوي.
- پلان جوړوي.
- د ساحې ، ټیم او دفتر تر مینځ ارتباط قایموي.
- د کلي د ملک سره خبري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د سروې ټیم (Survey Team)

## Team Leader

- خپل ټیم ته لارښوونه کوي.
- نقشه برابروي او کورونه مشخص کوي (Map out the village) .
- د Measurer اوAssistant measurer خارنه کوي.
- د Supervisor سره مرسته کوي.
- د کور له مشر سره خبري کوي.
- ریکاډینګ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د سروې ټیم (Survey Team)




- زموږ او ستاسي په ټولنه کي که چيري د کور خاوند ښځينه وي Measurer باید له Team leader سره مرسته وکړي.
- په ځيني استثنايي حالاتو کي که چيري ارقام غلط وي Supervisor کیدای شي Measurer شي.
- د Quality تغیر لپاره باید د ټیم تر مینځ تغیر راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سروې ټیم (Survey Team)

**Measurer**

- اندازه کوونکی :دوی وزن ، (weight)قد (Height)او اوږدوالی (Length)اندازه کوي.



by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د سروې ټيم (Survey Team)

## Assistant Measurer

- دوی له Measurer سره مرسته کوي تر څو ماشوم په معياري ډول اندازه شي .مثلآ ؛ د کوچني د اندازه کولو په وخت کي د هغه لاسونه او پښې ګيرول تر څو ونه ښوري او اندازه يې غلطه نشي .د مواک د استعمال په وخت کي د مربوطه شخص لستوڼي پورته کول.
- ماشومان ارامول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ساحې کارونه یا کړنې

# FIELD PROCEDURES

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د ساحې کارونه یا کړنې (FIELD PROCEDURES)

پنځه داني FPدي.

1. اماده کول (Preparation)
2. ساحې ته رسېدل (Arrival The Village)
3. د کورونو انتخابول (Select HHs)
4. د ارقامو راټولول (Data Collection)
5. د ساحې پرېښودل (Leaving The Field)

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# اماده کول (PREPARATION)

- ځان رسول او پلان اماده کول.
- Calibrating The Tools
  - ټول سامان باید چیک او وکتل شي مثلآ وکتل شي چي ایا Measurer board سم دی یا نه.
  - د سامان برابرول او پیدا کول.
  - د ترازو چیکول ددې کار لپاره پر ترازو باندي ۳ ځلي وزن اوړدو او لیري کوي یې.
  - د بېټریو چیکول.
- Questionnaireاو د ضرورت وړ موادو لیست باید موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د ترازو چيکول

- ترازو باید پر کلک او منظم ځای کښیښبود شي.
- ترازو باید درې ځلي د دوه کیلویي وزن په مرسته وازمویل شي.
- ترازو باید له لمر څخه وساتل شي .که چیري یو ترزاو لمر ته کښیښبودل شي سم کار نه کوي نو ترازو باید تقریباً د ۱۵ دقیقو لپاره سایې ته کښېښبودل شي وروسته استفاده ځیني وشي.

8/19/2022

by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساحې ته رسيدل (Arrival The Village)

- د کلي له مشر سره ليدنه.
- ځان معرفي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د کورونو انتخابول (Select HHs)



- Random Samplingد کلي له مشر څخه پوښتنه کوو چې په دې کلي کې څو کورونه دي بیا په نوموړي کلي کې د موجوده کورونو له نومونو څخه لیست جوړو .همدارنګه Simple Random Samplingلاندې دوې مرحلې لري:

1. د صحت عامې څخه د مربوطه کلي د کورونو آپډېټ لیست اخلو (Get of All Villages)
2. په راکړل شوو کورونو کې ۱۲کورونه انتخابوو (Get 12HHs(Houses) in each village)

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# د ساحې پرېښودل (LEAVING THE FIELD)





- د فورمو چیکول او پر هغه د کلي د ملک ټاپه امضاء کول.
- Absent homeکه چیري یو کور چي په سروې کښې زموږ ټارګیټ سوی وو او په دې کور کي څوک موجود نه وه تللي وه یو ځاي میلمانه وه نو موږ یې پرېږدو په اخیر کي یې بیرته د دویم ځل لپاره ورځو که چېري بیا هم نه وو نو په Absentکور کي یې لیکو.
- د سامان آلاتو چیکول (checking the tools)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاص حالات

# Special Cases

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# خاص حالات (Special cases)



1. که چیري په یوه کورنۍ کښې څو ودونه لرونکی کس موجود وي (Poly Qamas Families).

**حل لاره**: که چیري ټولو افرادو پر یوه دسترخوان ډوډۍ خوړل نو یو فامیل (HH) دی د یو فامیل په شان یې ارزیابي کوو .

که چیري ټولو افرادو پر څو دسترخوانونو ډوډۍ خوړل پچه اچونه کوو که د هر فامیل نوم راووت هغه فامیل ارزیابي کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاص حالات (Special cases)

**دویم :**مجموعه یا کوچنۍ تولنه (Compounds)

که چیري په یوه غټ کور یا کلا کښي څو فامیله ژوند کوي او هره فامیلي ځان ته جلا دروازه ولري compoundsبلل کېږي.

**حل لاره :**حل لاره یې د اول افشن په رقم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# (Special cases) خاص حالات

**دريم** :کله چي د انتخاب شوي کورنۍ سره د وزيټ امکان نه وي (If It’s Impossible To Visit A Selected House)

مثال :د کور خاوند عکس العمل وښيي يا کور سپی ولري .

**حل لاره** :لومړی ځو نور کورونه ګورو وروسته دويم ځل نوموړی کورته راځو که يې بيا هم نه پريښودلو نو په غيري حاضر کي نيسو .

همدارنګه ځيني ځيني وخت که چيري يو کور عکس وښيي په Refusalکي نيسو.

8/19/2022

by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاص حالات (Special cases)

**خلورم** :کله چي په کور کي ماشومان نه وي.

**حل لاره** :فقط ليکو چي ماشومان نسته همدارنګه په دې حالت کي د مړو اندازه معلوموو او حامله ميندي ګورو.

8/19/2022

by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاص حالات (SPECIAL CASES)

**پنځم** :خالي کورونه

- خالي کورونه پر دوه ډوله دي دايمي پرېښودل شوي او موقتي خالي شوي.

1. دايمي پرېښودل شوي کورونه (Abandoned homes)
   - دا ډول کورونه د اوله سره په حساب کي نه راولو.
2. موقتي پرېښودل شوي کورونه (Temporary Empty homes)
   - دا ډول کورونه په Absent homes کي شميرل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# (SPECIAL CASES) خاص حالات

**شپږم** :غیري حاضر ماشومان (Absent children)

**حل لاره** :یو ځلي ورځو که چیري ماشومان غیري حاضر وه په اخیر کي دویم ځل بیا ورځو که بیا هم نه وه نو په Absent childrenکي یې شمارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاص حالات (SPECIAL CASES)

**اووم :معلول ماشومان** (Disabled children)

☜نوموړي ماشومان حق لري چي په سروې کي شامل شي او باید شامل شي.

**حل لاره**

- که لاسونه یې نه لرل وزن او قد یې معلوم وو.
- که پښې یې کړې وې او قد یې سم نه اندازه کېدی نو مواک او وزن یې معلوموو.
- له معلولینو ماشومانو څخه تصویر اخیستل بهترین کاردی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# (Special cases) خاص حالات





**اتم** :په هسپتال کي بستر ماشومان (Children In Hospital And Feeding Center)

**حل لاره** :که هسپتال نیژدې وو د سروې په اخیر کي ورځو او اندازه کوو یې او که هسپتال لیري وو غیري حاضر یې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (Accuracy) ثبات

# (Precision) دقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# ثبات او دقت





**ثبات (Accuracy)**

که چیري د اندازه کوونکي لاسته راغلی ټارګیټ اساسي ټارګیټ ته نیژدې وي ثابت دی او که لیري وي غیري ثابت وي.

**دقت (Precision)**


که چیري د اندازه کوونکي په مرسته لاسته راغلي ټارګیټونه په خپلو کي سره لیري وه دقت یې لږ دی او که سره نیژدې وه دقت یې زیات دی.

- اساسي ټارګیټ د Supervisor په مرسته لاسته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# ثبات او دقت




**د تصویر شرحه**


د Aټيم دوه ټارګيټونه تر لاسه کړي خو دواړه له مرکز څخه ليري دي نو ثبات (Accuracy)يې کم دی ، او هم دواړه په خپل مينځ کي سره ليري دي نو دقت (precision)يې کم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# ثبات او دقت

**د تصوير شرحه**





د Bټيم دوه ټارګيټونه تر لاسه کړي خو دواړه له مرکز څخه نسبتاً ليري دي يعني نظر د Aګروپ ته مرکز تـــه نيــــږدي دی نـــو ثبـــات (Accuracy)يې نظر Aګروپ ته زيات دی ، او هم دواړه په خپل مينځ کي سره نيژدې دي نو دقت (precision)يې هم نظر Aګروپ ته زيات دی.

8/19/2022 by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

# ثبات او دقت




**د تصویر شرحه**

د C ټیم دوه ټارګیټونه تر لاسه کړي دواړه مرکز ته نیږدې دي یعني نظر د B او A ګروپونو ته مرکز ته نیـــــږدې دی نـــــو ثبـــــات (Accuracy) یـې نظر A او B ګروپونو ته زیات دی ، او هم دواړه په خپل مینځ کي ډیر سره نیژدې دي نو دقت (precision)یـې هم نظر A او B ګروپونو ته زیات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثبات او دقت

- د A د ګروپ ثبات او دقت دواړه کمزوري دي ، د B د ګروپ ثبات او دقت میانه دي او C د ګروپ ثبات او دیق دواړه ډیر او ښه دي.

8/19/2022 by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سمپلینګ

# SAMPLIN

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سمپلینګ

د نمونې اخیستلو ته ویل کیږي .یا په بل عبارت د نفوسو څخه د یوه کوچني ګروپ اشخاصو ټاکلو ته ویل کیږي. ښه مثال يې د کتغ په وخت کي د ژبي په مرسته د خوارکي توکو د خوند کتل دی. موږ د خوند معلومولو لپاره ټوله کتغ نه خورو بلکي فقط خوند يې ګورو دغه خوند کتل په نسبت د ټوله کتغ سمپلینګ بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سمپلينګ

**د سمپلينګ معلومول دوې مرحلې لري:**

1. د Clusterمعلومول

- د کلسټر لغوي معنی د انګورو غونچه ، دلته د نفوسو د کوچنۍ برخې په معنی دی.

2. Select 12 Houses

- کلسټر د اینا سافټویر په مرسته انتخابیږي او دوولس کورونه موږ انتخاباوو خو دا انتخاب هم موږ خپل په خوښه نشو کولای بلکي د پچي اچوني په ډول يې انتخابوو.

8/19/2022 by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سمپلینګ

**د سمپلینګ د معلومولو دویمه طریقه په خپل ځان کښي دوه نوري طریقې لري:**

.1 Simple Random Sampling

- نومورې طریقه د صحرا لپاره ده چیري چي کورونه لیري پراته دي.

.2 Systemic Random Sampling

- نومورې طریقه د ښار لپاره ده چیري چي کورونه منظم او سره نیژدې موقیعت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سګمنټېشن

# Segmentation

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سګمنټېشن

**تعریف** د یوه فرضي ویش په مرسته د یوه غټ کلي ویشل په کوچینو ټوټو باندي Segmentationبلل کیږي.

- که چیري په یوه کلي کي د کورونو شمیر تر ۱۵۰ واوړي نو سګمنټېشن څخه استفاده کوو.
- که چیري د کورونو شمیر فقط ۱۵۰ شي نو موږ له سګمنټېشن څخه استفاده کوو.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکمنټېشن

- سکمنټېشن اکثره وخت د **سوپروایزر** دنده ده.
- موږ دغه فرضي ویش نظر طبیعي ځایونو او شیانو ته کوو مثلاً رود ، لاري ، غرونه ، مساجد او مشهوره مارکېټونه کارولای شو.
- د سکمنټېشن د لا ښه پوهاوي لپاره یو مثال وړاندي کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سکمنتېشن




فرضوو چي دغه تصوير د ښار د يوې ساحې دی په دې ساحه کښې د کورونو شمېر تر ۱۵۰ ډېر دی په دې کلي کي له شمال څخه جنوب ته لويه لاره تيره شوې ده او له ختيځ څخه لوديځ ته رود تير سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سګمنټېشن




دغه کلی نظر یوه
لـــوی ســـړک ،
مســـجد او لــویې
لاري ته پر ثلورو
برخـو ویشـو کـوم
چـــي پــه شـــکل
کښـــي ښـــودل
سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکمنټېشن




وروسته د کلي له ملک یا مولوی صاحب څخه پوښتنه کوو چې ددې کلي د Aپه طرف به تقریباً څو کورونه موجود وي. همدارنګه د B,Cاو Dپه اړه هم پوښتني ځیني کوو. د مثال په ډول ملک صاحب موږ ته هغه ارقام په لاس راکړل کوم چې ما په تصویر کي ډیزاین کړي دي. اوس تحلیلوو چې څنګه په دې زیاتو کورونو کښي ۱۲ کورونه په تصادفي ډول ټاکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکمنتېشن

د کلي د ځلورو اطرافو د کورونو مجموعه باید تر ۱۵۰ زیاته شي.

ځلور سره اندازې د لاندي جدول په رقم ترتيب کوو.

| Segments | Houses | Cumulated Houses | Interval (Chances) |
|---|---|---|---|
| A | 30 | 30 | 1-30 |
| B | 80 | 110 | 31-110 |
| C | 40 | 150 | 111-150 |
| D | 60 | 210 | 151-210 |

په جلدول کي په Cumulated Houses کي ۱۱۰ د ۸۰ او ۳۰ د مجموعې ځخه او ۱۵۰ د ۱۱۰ او ۴۰ له مجموعې ځخه په لاس راوړل سوي دي .

همداسي تر پايه يې پيدا کوو.

8/19/2022 by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکمنټېشن

په جدول کښي مهم د انټروال کالم دی. په دغه کالم کښي هغه ارقام د منفي په ډول ليکو کوم چي د منفي حاصل يې خپله د هماغه عدد سره مساوي سي.

| Segments | Houses | Cumulated Houses | Interval (Chances) |
|---|---|---|---|
| A | 30 | 30 | 1-30 |
| B | 80 | 110 | 31-110 |
| C | 40 | 150 | 111-150 |
| D | 60 | 210 | 151-210 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

SMART

## Random Number Table


| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 64612 | 77930 | 16137 | 12927 | 89071 | 72799 | 41537 | 36124 | 90640 | 31518 |
| 68866 | 19304 | 42847 | 17249 | 97332 | [illegible] | 39716 | 03893 | 06408 | 32722 |
| 50198 | 35604 | 77895 | 61969 | 51985 | [illegible] | 33488 | 78995 | 04992 | 75339 |
| 76698 | 11509 | 43552 | 41494 | 83724 | [illegible] | 75786 | 19758 | 45947 | 94834 |
| 73412 | 52071 | 43503 | 62873 | 53324 | 11284 | 43196 | 06348 | 30008 | 62652 |
| 42295 | 74036 | 20944 | 62432 | 59331 | 89684 | 88553 | 32377 | 93850 | 12720 |
| 14980 | 35863 | 08297 | 96342 | 19765 | 47025 | 29892 | 81190 | 68117 | 08072 |
| 76350 | 78339 | 37830 | 99947 | 43444 | 98453 | 50998 | 75554 | 04195 | 85201 |
| 01581 | 46405 | 52672 | 46305 | 08886 | 33547 | 38993 | 18768 | 14469 | 72645 |
| 67238 | 13884 | 20162 | 80008 | 62569 | 22205 | 30546 | 28072 | 44837 | 49459 |

- اوس  دRandom Number Table ملک صاحب مخته ایږدو ، ملک صاحب ته وایو چي مخ واړوه او اټکلي په یو ځای ګوته کښېږده ، مثلآ ملک صاحب په ۰۸۱ باندي ګوته کښېښودل کوم چي په تصویر کي په نښه شوی دی په جدول کښي ګورو چي ۸۱ نمبر د ۳۱ او ۱۱۰ تر مینځ موجود دی نو د  دB ګروپ پچه وغورزېده نو موږ د  Bپه ګروپ کښي کوم چي ۸۰ کورونه لري خپل ۱۲ کورونه معلومو کوم چي طریقه یې په راتلونکی سلایډ کښي ذکر شوې ده.

8/19/2022
by Dr. Asadullah farzad

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکمنټېشن



SMART

Cluster No. ___ Team No. ___ Village Name: ___

Date ___


Household List

| S.No | Head of Household Name | Randomly selected |
|---|---|---|
| 1 | | |
| 2 | | |
| 3 | | |
| 4 | | |
| 5 | | |
| 6 | | |
| 7 | | |
| 8 | | |
| 9 | | |
| 10 | | |
| 11 | | |
| 12 | | |
| 13 | | |
| 14 | | |
| 15 | | |
| 16 | | |
| 17 | | |
| 18 | | |
| 19 | | |

ددې لپاره چې په ۸۰کورونو کي خپل ۱۲کورونه په تصادفي ډول لاسته راوړو نو اول د ټولو کورونو لیست په Household Listپاڼه کښي لیکو. وروروسته بیا د تیر په شان ملک صاحب ته وایو چې په اټکلي ډول په RNTباندي لاس کښیږده کوم نمبر چې په لاس راغلی که د هر کور له نمبر سره مساوي وو هماغه نمبر کور مو اول ټارګیټ شو ، همداسي نمبرونه پسي تعقیبوو که وروپسي بل داسي نمبر په راغلی چي د ۱ -۸۰انټروال کي موجود وو نو همدا دویم نمبر ټارګیټ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سګمنټېشن



SMART

Cluster No. ___ Team No. ___ Village Name: ___

Date ___

Household List

| S.No | Head of Household Name | Randomly selected |
|---|---|---|
| 1 | | |
| 2 | | |
| 3 | | |
| 4 | | |
| 5 | | |
| 6 | | |
| 7 | | |
| 8 | | |
| 9 | | |
| 10 | | |
| 11 | | |
| 12 | | |
| 13 | | |
| 14 | | |
| 15 | | |
| 16 | | |
| 17 | | |
| 18 | | |
| 19 | | |

مثال :ملک صاحب ګوته پر ۳۷نمبر کښېښودل نو ۳۷م نمبر کور زمونږ اول ټارګیټ شو ، همداسي له چپ څخه راسته خواته ځو ګورو چي راتلونکی نمبر ۶۵ دی نو ۶۵یم نمبر کور زمونږ دویم ټارګیټ شو همداسي ځو ترڅو چي دوولس سره کورونه ټارګیټ کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Data Collection Tools

(c) ketabton.com: The Digital Library

# DATA COLLECTION TOOLS

1. پوښتنليک (Survey Questionnaire)
2. د کورونو د ليست فورمه (Household Listing Form)
3. د تصادفي نمبرونو جدول (Random Number Table)
4. Cluster Control Form
5. Referal Form
6. WHO- Z score
7. Mortality Form

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په لاندي حالاتو کي له مرکز سره اړیکه نیسو:**

1. سیلاب
2. په لاره کي جنګ او نور...

**یادونه:** له مرکز سره اړیکه نیول اړینه ده ځکه که چیري اړیکه ونه نیول شي او ټیم بیرته مرکز ته راشي کیدای د دفتر له خوا ټیم د ټیم په شخصي لګښت بیرته واستول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ریفرال

# (Referal Form)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ریفرال فورم



- یو کوچنی فورم دی کله چي موږ په ساحه کي له داسي سوءٔ تغذي ماشوم سره مخ کېږو چي تداوي يې نه وي شروع کړې یا يې مواک تر ۱۲۵ ملي متره کم وي نو ددې فورم په مرسته دغه مریض وه مربوطه صحي مرکز ته ریفر کوو یا استوو.
- که چیري ماشوم شدید سوءٔ تغذي وو نو ماشوم OPD SAMته استوو چیري چي بیا مریض ته RUTFمواد ورکوي.
- که چیري ماشوم متوسطه اندازه سوءٔ تغذي وو نو ماشوم OPD MAMته استوو چیري چي بیا ماشوم ته RUSFورکوي.

RUTF (Ready to Use Therapeutic Food)
RUSF (Ready to Use Supplementary Food)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Recall period

- په خپله خوښه د تیر وخت یو انټروال چي په دا نيژدې وخت کي تېر شوی وي نیسو.
- مثلاً له نن اګسټ ۱۹ څخه تقریباً درې میاشتي مخکي اختر وو ، نو د اختر څخه دې خواته تر نن ورځي پوري د وخت دغه انټروال ریکال پریود دی.
- په محاویره )تاریخچه(کي بیا ددې وخت پوښتني ځیني کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له توجو څخه مو

# نړۍ ـ نړۍ مننه!

Asadullah Farzad

asadullahfarzad@gmail.com



8/19/2022 by Dr. Asadullah farzad

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**